**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند ۲۰۱۸/۰۷/۰۱

# «ایوان ښاروویچ او خړلېوه»

## په پښتو ژبه باندې د کوچنیاو له پاره

### یو غوره ژباړل شوی داستان

### ځلورمه برخه




دا کیسه (ایوان ښاروویچ او خړلېوه) په اصل کې یوه فولکلوري افسانه ده چې واسیلي اندریوویچ ژوکوفسکي (۱۷۸۳ - ۱۸۵۲) په نولسمه پېړۍ کې لیکلې ده.
ډوکتور لطیف بهاند له ډېر مصروفیتونو سره او د ګڼشمېر نړیوالو شهکارونو د ژباړلو په څنګ کې، ماشومان او کوچنیان هم نه دي هېر کړي. د ماشومانو او کوچنیانو له پاره یې دا غوره او په زړه پورې کیسه انتخاب او را ژباړلې ده.
دا کیسه ډوکتور لطیف بهاند د ۲۰۱۸ کال د جون په اومه نېټه، د ماشوم د نړیوالي ورځې په مناسبت، په خپله فیسبوک پاڼه کې آنلاین کړه او په پیل کې یې داسې ولیکل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«خورا په زړه پورې ده،
تاسو ماشونو ته (د ماشومانو د نړیوالې ورځې په ویاړ) څه ډالۍ ورکړه؟»
او له دې جملې نه وروسته یې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره خپله همدا ژباړه د ډالۍ په ډول په خپله فیسبوک پاڼه کې آنلاین کړه.
د ډوکتور لطیف بهاند په حواله دا کیسه: «د لومړي ځل له پاره د روس پارزبورګ خپرونوکې مجلې- سفریمنیک - په ۱۸۴۵ کال خپره کړې ده.»
کله مې چې د دې کیسې د پښتو ژباړې او چاپ په باب ښاغلي ډوکتور لطیف بهاند وپوښته، نو داسې یې راته وویل: «دقیق وخت مې یې نه یادېږي. کېدای شي ۲۰۰۴- ۲۰۰۵ کال به و. د ماشومانو پنځه کیسې وې، په پښتو او فارسي په یو کتاب کې د ملګرو ملتو د دفتر له خوا په مسکو کې خپرې شوې دي، چې یوه کیسه په کې همدا ده...»
ما (آصف بهاند) د کوچنیانو د ادبیاتو د یو فعال په توګه اړینه وګڼله چې د واسیلي اندریوویچ ژوکوفسکي په قلم لیکل شوې او د ډوکتور لطیف بهاند له خوا ژباړل شوې دا کیسه، د نورو لیکل شوو او راژباړل شوو کیسو تر څنګ د کوچنیانو له پاره بیا ځلې خپره کړم. زه خبره نوره نه اوږدوم، د کیسې لوستلو ته مو رابولم:

# ایوان څاروویچ
# او
# خرلیوه

لیکوال: واسیلي اندریوویچ ژوکوفسکي
ژباړن: ډکتور لطیف بهاند

## څلورمه برخه

ایوان څاروویچ پر خر لیوه کښېناست او لیوه په منډو شو، خر لیوه په داسې چټکۍ روان و، لکه بریښنا. دی په یو ځای کې ودرېد او وې ویل: ویني، دا هغه ځای دی چې ما ستا پر آس ور دانګلي و او هغه مې دوه ځېري کړی و. ګران ایوان څاروویچه! ما ستا خدمت کړی، زه په تا باور لرم او ریښتیا در ته وایم، په همدې ځای کې ما ستا آس دوه څیرې کړی و، نو څکه ما، ته، تر دې ځایه را وستلې، اوس نو زما له اوږو را کوز شه. د خر لیوه د اوږو نه، اوس ته زرین یال لرونکي آس لرې، اوس کولای شې، په هغه سپور شې، هر هغه ځای ته چې ستا زړه وي، دا آس هلته تا رسوي. نور نو زه نه شم کولای ستا خدمت وکړم.
خرلیوه چې دا خبرې وکړې، ګوښه شو او بل پلو ته یې منډې کړې. ایوان څاروویچ خواشینی شو او په ساندو، یې وژړل او د ایلینا پریکراسنایا سره یو ځای یې خپله لاره ونیوله.
هغوی هېڅ یوه نه شول، چې ډېره لاره یې ووهله، که لر، خو همداسې دواړو پر خپل زرین یال لرونکي آس ناست وو. د خپلې پاچاهۍ لور ته روان وو.
خو کومه شپېه یې پام شوم چې د دوی مزل ته شل کروهه لاره پاتې وه، نو هغه و چې له آس نه راښکته شول او دمه یې وکړه. هغوی لمر وهلی وو، نو څکه یې ځان ته د ونو د سیوري لاندې ځای پیدا کړ، خپل د زرین یال لرونکی آس یې په هماغې ونې پورې وتاړه. دوی قفس او په هغه کې سمندر ځان ته نږدې کېښود. هغوی هم په داسې حال کې چې په ګنو شنو او جلګو کې وغزېدل، خوږې کېسې یې کولې، چې په همدې کیسو کې دواړه کلک ویده شوی وو.
کله چې دوی ویده وو، په همدې وخت کې د ایوان څاروویچ وررونه دیمتري او واسیلي څاروویچ، چې په ډېرو ملکونو کې د اور په مرغه پسې ګرځېدلي وو او پیدا کړی یې نه و، ببرته خپل وطن ته راستنېدل، هغوی د شپې په تیاره کې پام شو چې د لارې خواته یو څوک ویده دي. چې ګورې د دوی خپل ورور ایوان او یوه ښایسته ښځه ده. د اور مرغه یې هم زرین قفس کې خوا ته ایښی دی او هلته لرې د زرین یال آس هم ولاړ دی. سمدلاسه له دوی سره دا سودا پیدا شوه چې دا ټول: ښایسته ښځه، د زرین یال آس، زرین قفس او د اور مرغه تر لاسه کړي.
دیمتري څاروویچ بې له ځنډه خپله توره راویستله او په خپل وررور ایوان څاروویچ یې څو ګوزارونه وکړل، هغه یې ټو ټوټې کړ. ترهغه وروسته یې ایلینا پریکراسنایا را وینه کړه او له هغې نه یې پوښتنې پیل کړې:
ــ ای ښایسته پېغلې! ته د کومو ملکونو یې، د چا لور اونوم دې څه دی؟
ایلینا پریکراسیانا چې خوبولې وه، پام یې شو، چې ایوان څاروویچ وژل شوی، سخته ووېرېدله او په ژړا او ساندو یې پیل وکړ، په داسې حال کې چې اوښکې یې په مخ را ماتې وې، وبویل:
ــ زه ملکه ایلینا پریکراسنایا، یم . زه همدې ایوان څاروویچ چې تاسو په ډېر ظلم او بې رحمې وژلی، پیدا کړې وم. تاسو به ډېر نېکمرغه وای، که د برې تر پولو او ملک پورې یو ځای په ګډه تللی وای، تاسو به مهربانه او ښایسته شهزاده ګان وای، که هغه مو نه وای وژلی، تاسو به رښتیا کاره انسانان وای.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ـ هغوی چي د اېلینا پریکراسنایا دا خبري واورېدې، د یمتري ځاروویچ خپله توره را وایستله او د هغې په غاړه یې ور کېښوده. دیمتري ځاروویچ هغې ته وویل: اېلینا پریکراسنایا! ته اوس زموږ په منګولو کي یې، اوس موږ تا خپل پلار ته ورولو، ته به هغه ته ووایې، چي ته، سمندر یا د اور مرغه او د زرین یال آس، موږ موندلي او هغه ته مو راوړي یاست. ګوره، خدای مه کړه، که ته بل څه ووایې، مرګ به دې په برخه شي.

اېلینا پریکراسنایا چي ډېره مرګوني ډاره شوې وه، له دوی سره یې ژمنه وکړه، چي هغه څه وایي چي دوی یې غوښتونکي دي.

نو هغه و چي دېمتري ځاروویچ او واسیلي ځاروویچ، ځو کاني را واخیستل چي پچه واچوي، چي اېلینا پریکراسنایا د چا او دا زرین یال آس، د چا په برخه کېږي.

دوی چي پچه واچوله، اېلینا پریکراسنایا، د واسیلي ځاروویچ په نامه شوه او د اور مرغه او زرین یال آس د دیمتري ځاروویچ شو.

واسیلي ځاروویچ، اېلینا پریکراسنایا پر آس کېښوله. او دیمتري ځاروویچ د واسیلي ځاروویچ د اور مرغه واخیست او د زرین یال پر آس کېناست. دوی په چټکی سره د خپلي پاچاهۍ په لور تلل او ډېر یې تلوار وو، چي دغه سوغاتونه خپل پلار، پاچا واسلاو اندرویچ ته ور ورسوي.

د ایوان ځاروویچ مړی، پوره دېرش ورځې، په هماغه ځای پروت و، چي ورونو وژلي وو. تر هغې ورځې چي خړ لېوه، هلته برابر شو او د هغه روح یې هلته سرګردانه ولید او ویې پېژانده.

خړلېوه ډېر غوښتل چي له هغه سره مرسته وکړي، داسې مرسته چي ایوان ځاروویچ بېرته راژوندی شي، خو په دې نه پوهېده چي دا کار څنګه وکړي، ناڅاپه یې یوه کاغۍ او د هغه دوه بچې ولیدل، چي غوښتل یې ځمکي ته راکوز شي، ځان د ایوان ځاروویچ مړي ته ورسوي او په خوړلو یې پیل وکړي. خړلېوه هماغلته نږدې ځان پټ کړ او د سترګو په رپ کي کاغۍ او د هغې بچیان ځمکي ته را ورسېدل. په دې وخت کي خړلېوه ور و دانګل او د کاغۍ یو بچی یې راونیو او غوښتل یې چي دوه ټوټې یې کړي. هماغه و، چي خپله کاغۍ بېرته راوګرځېده، ځمکي ته را ښکته شوه او د خړلېوه نه لرې کېناسته او ورته وې ویل:

ـ ای خړلېوه! دغه زما کمکی بچی دی، ته په هغه څه کوې، هغه خو تا ته هېڅ نه دې ویلي، ښه به داوې چي هغه پرېږدې.

خړلېوه هم په چورت کي لاړ او د کاغۍ ځواب ته یې ځان برابر کړ:

ـ ای کاغۍ، زه به ستا بچی روغ او جوړ پرېږدم، په هغه به هېڅ لاس ونه وهم، خو که ته زما یوه خبره په ځای کړې. هغه دا چي که ته د دنیا هغې بلي خوا ته، هغو لرو، لرو پاچاهیو ته لاړه شې ا و ما ته د ژوند او مرګ اوبه راوړې.

کاغۍ د خړ لېوه دا خبره ومنله او هغه ته یې ځواب ورکړ: زه به هرو مرو ستا خبره، په ځای کړم، تا ته به د ژوند او مرګ اوبه راوړم، خو ته هم زما بچی مه زوروه.

هغه و چي کاغۍ لاړه، والوتله، تر ځنګلونو او غرونو پناه شوه. درې ورځې وروسته کاغۍ بېرته راستنه شوه او دوه بوتله یې په منګلو کي نیولي وو، په یوه کي د ژوند او په بل کي د مرګ اوبه وې. کاغۍ له خړ لېوه سره وکتل او له وعدې سره سم یې د ژوند او مرګ اوبه هغه ته وسپارلې.

لېوه اوبه واخېستې، کاغۍ یې را ونیوله او دوه ځېرې یې کړه. د مرګ اوبه یې پرې وشیندلې. شیبه پس کاغۍ را ژوندۍ شوه او لاړه والوتله. تر هغه وروسته ده د ایوان ځاروویچ په مړي هم د ژوند اوبه و شیندلې او څو شیبې وروسته، ایوان ځاروویچ را په سد شو او وې ویل:

ـ اخ، څومره ډېر ځنډ زه ویده شوی وم.

په دې وخت کي خړلېوه، هغه ته وویل:

ـ هو ایوان ځاروویچه! که زه نه وای، ته به په ابدي خوب ویده وای. ته پوهیږې، ته دې ورونو وژلی یې، اېلینا پریکراسنایا، د زرین یال آس او د اور مرغه هغو له ځانه سره وړې دي. هغوی په تلوار د خپل وطن په لور روان دي، ته هم تلوار کوه، نن ستا ورور، واسیلي ځاروویچ، غواړي ستا د ناوي اېلینا پریکراسنایا سره واده وکړي، د دې لپاره چي ته ژر خپل کور ته ورسیږې، ښه به دا وي چي زما په اوږو کېنې، زه به تا ډېر ژر د سترګو په یوه رپ کي هلته ورسوم.

هغه و چي ایوان ځاروویچ د خړ لېوه پر اوږو کېناست او د واسلاو اندریوویچ د پاچاهۍ په لور روان شول. ژر و که په ځنډ، هغوی د ایوان ځاروویچ پلرنی وطن ته ورسېدل. ایوان ځاروویچ د خړ لېوه له اوږو را کوز شو، لاړ ښار ته ورننوت او مخامخ د پاچاهۍ ماڼۍ ته ورغئ. هغه ولیدل چي د ده د ورور، واسیلي ځاروویچ او اېلینا پریکراسنایا، واده په شرنګ او شور روان دی.

هغه د واده، مېنځ ته ورننوت، د ناوي او زوم د پالنګ خواته ورغی، ټول هک، حیران وو. په همدې شیبه کي د اېلینا پریکراسنایا سترګې په هغه ولګېدې.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

د ایوان څاروویچ په لیدو سره، اېلیناپریکراسنایا پاڅېده، د هغه لور ته یې ور منډه کړه، هغوی له یو بل نه لاسونو تاو کړل. اېلینا پریکراسنایا له هغه نه یوه داسې مینه ناکه او خوږه مچه واخیسته، چې واده ته د ټولو راغلیو مېلمنو ورته پام شو. په همدې شېبه کې اېلینا پریکراسنایا، د خوشحالۍ په چیغو وویل:
ـ دغه زما مین دی، دا زما د زړه سر دی، دا زما د سترګو تور دی، دا ایوان څاروویچ مهربانه او په مینه خبر. نه هغه ظالم او زړه توری دیمتري.
په همدې شېبه کې واسلاو اندریوویچ، پاڅېد، د اېلینا پریکراسنایا خوا ته ورنیږدې شو، او له هغې نه یې پوښتنې پیل کړې:
ـ دا خبرې څه مانا لري؟ د څه په اړه دي، دا ټولې چیغې او خبرې دې پیل کړې دي؟
اېلینا پریکراسنایا چې تر اوسه هېڅ نه و ویلي، ټول ربښتیا یې پاچا ته وویل. هغه شان چې هغې لیدلي و او پرې تېر شوي وو.
هغه وویل چې دا د ایوان څاروویچ ناوې ده، دا د زرین یال آس او د ژوند مرغه هم د ایوان څاروویچ دي. دیمتري وژونکی دی. هغه خپل ورور، ایوان څاروویچ په خوب کې وواژه. دا چې دوی وایي چې دا د دوی دي، دروغ وایي.
پاچا واسلاو د دې خبرو په اورېدلو سره له دیمتری او واسیلي څاروېچانو نه خوابدی او ډېر زړه بدی شو.
ایوان څاروویچ له اېلینا پریکراسنایا سره واده وکړ، هغوی د مینې او راز ونیاز داسې نوی ژوند پیل کړ، چې یوه شېبه یې هم نه شو کولای، له یو بل نه جلا ژوند وکړي.



پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ